# شوال مياشت كي شپږ روژو
# نيولو شرعي حكم

**لغة البشتو**



# شوال مياشت کي شپږ روژو نيولو شرعي حکم

س/ د شوال مياشت شپږ روژې نيول څه حکم لري أيا دا واجب دي؟
ځواب:
الحمد لله ....

- د رمضان د فرضي روژو نه وروسته د شوال شپږ روژې نيول سنت او مستحب دي، فرض نه دي، او د مسلمان لپاره د شوال د مياشتې شپږ روژې نيول مشروع عمل دی او په دې کې ډېر فضيلت او لوی اجر دی، ځکه څوک چي دا روژه ونيسي د ټول کال د روژو نيولو ثواب ورکول کيږي، لکه څرنګه چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه په صحيح روايت راغلي دي، د ابو ايوب رضي الله عنه په روايت کي دي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:
(چا چې د رمضان روژې ونيولې او د شوال شپږ روژې يې ورپسې ونيولې نو دا به د ټول عمر د روژو په شان وي) [دا حديث امام مسلم، ابوداود، ترمذي، نسائي ابن ماجه روايت کړی]

- او رسول الله صلى الله عليه وسلم يي داسي تفسير کړی فرمايي:
(چا چې د کوچني اختر نه وروسته شپږ روژي ونيولي نو دا داسي ده لکه ده چي ټول کال روژي يي نيولي وي) او په يو روايت کي دي:
(څوک چې يوه نيکي راوړي لس چنده ثواب به ورکول کيګي).
او په بل روايت کې راغلي: (الله جل جلاله يوه نيکی لس برابره کوي) نو د رمضان يوه مياشت د لسو مياشتو برابره ده، او شپږ روژي ورپسي نيولو سره کال پوره کيږي ). [دا حديث امام نسائي او ابن ماجه روايت کړی او په صحيح الترغيب والترهيب ۱/٤۲۱ کي روايت کړي] .

- او ابن خزيمه په دي لفظ روايت کړی: (د رمضان د مياشتی روژي په لسو مياشتو حسابيگږي او شپږ روژي ورپسي په دوو مياشتو حسابيږي نو دا کال پوره شو).

- او د حنابلوو او شافعي فقهاوو په دي خبره تصريح کړې چې له رمضان وروسته د شوال شپږ روژې نيول د يو کال فرضي روژې سره برابر دي.
کنه نو د اجر زياتېدل عموما په ټولو نفلي روژو کي ثابت دی ځکه چي يوه نيکي په لس چنده ده.

- بيا د شوال د شپږ روژو نيولو له مهمو ګټو څخه د رمضان د فرضي روژو د نيمګړتياو پوره کول دي، ځکه چې روژه دار نه په روژه کې خامخا تقصير او ګناه کيږي چې د هغه په روژه باندې منفي اثر کوي، او د قيامت په ورځ به د فرايضو نقصان او کوتاهي په نوافلو جبرانيږي ، لکه څرنګه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: د خلکو سره به د هغوی په اعمالو کې لومړی د لمونځ په هکله پوښتنه کيږي، بيا به الله تعالی خپلو ملايکو ته ووايي چې وګورئ ايا زما د بنده عمل پوره دی او که ناقص که کامل وي کامل وليکلی شي که ناقص وي بيا ورته ووايي چې وګورئ زما د بنده نوافل شته که نه، که نوافل يې وي نو په نوافلو به يې فرايض پوره کړي|، بيا ټولو اعمالو سره همدغه طريقه کيږي. [دا حديث امام ابو داود روايت کړی.] والله اعلم.